## بې توپيري

چې مې په مرګ شي، بيه دوه ګرايه،

يو پيل خو يم که ، پيلسوف نه يم . . .

پر مړو درنښت څه د ژوندو نه وي ،

زه هم که مړ شوم، بيا به هرڅه يم !

وږی ٦٧

دبهادر اختاش د غبرګو لونو **١٥** کلنې سيما او **١٣** کلنې د يانا

**ويرنه** چې د ښوونځي په وربوی کې شهيدانې شوې :

که مور يې له تاسې واخېستو ،

خو ،

ډاډه اوسئ ،

چې زمونږ په وينو کرلې خاوره به

هېڅکله در څخه وانه خېستای شي !!؟

تله ١٣٦٧

## لړم ميندې

که واړه دي واړه ګرم ،

خو د ه آره يې له لويه

نه شي تش په لړ مانو ،

www.samsoor.com   www.zyar.net

که پرون مو نه مرووړای ترګونډو لاندې
ورته ولې به کېدلو پرګونډو نن
که پرون مو بوتان نه ور ماتولای
وو به ولې لکه بوت ته پر سجدو نن !

۱۳۶۸/۵/۲۱

## درې پړسوبه

درې پړسوبه نن سبا سره مله شوي ،
مله لا څه چې یو په بل کې دي کلک نغښتي ...
د ( پیسو ) او د ( څوکیو ) او د ( ښځو )،
ځکه درې سره په یوه لومه کې نښتي !

۱۳۶۸/۲/۱۲

## ژغور بیړۍ

چې د مړو خوسا اوبو پر اوږو بار شم ،
د اوبړیو په ښېر نه یم ښېښپاند ...
تر ګلکځ ورسوم چې ژغور بیړۍ مې ،
لکه سیند غوندې بهاند یم او ښپاند !

۱۳۶۸/۹/۵

## ا نساني آیات

د آلله (ج) آیات ټیکه د ( خمیني )

www.samsoor.com www.zyar.net

